ډاکټر عبدالرحمن زماني ۲۰۱۳/۰۷/۱۴

# په آزاد سرحد کي د مومندو مبارزې

(دولسمه برخه)

## دآزاد سرحد د قبایلود غزاګانو په هکله د امیرحبیب الله خان پالیسي

د۱۹۰۵م کال د مارچ د یویشتمي (۲۱) نیټي په ترون سره، کله چي انګریزانو په کال کي د ۱۸ لکه روپیو (۱۶۰۰۰۰ پونډه) تخصیصیي او هندوستان له لارې د وسلو د راوړلو داجازې په بدل کي دافغانستان دخارجي مناسباتو بشپړ کنټرول تر لاسه کړ(۱)، امیر حبیب الله خان دبریتانوي هند تر سرپرستی لاندې راغي. بیا کله چي لارډ مینټو، هند ته د نائب السلطنه په توګه راغي نو کوښښ یې وکړ چي هند ته دامیر د بللو له لارې، هغې سره دوستانه مناسبات نور هم ټینګ کړي.

څرنګه چي دهغه دپاره د هند نه دامیر لیدني زیات سیاسي اهمیت درلوده، نو په دې هکله یې د لندن سره زیاتې مشورې وکړې اوټینګار یې کاوه چي "دا سفر به هم دآزاد سرحد پر قبایلو ډیره ستره اغیزه ولري، او هم د هند د مسلمانانو پر احساساتو(۲)". هغه زیاته کړې وه چي دسرحد په قبایلو او پر مسلمانانو دنفوذ دپاره ددغه ګاونډي ملګرتوب مونږ ته تقریبا ضروري دئ.

امیر که څه هم د انګریزانو او روسانو دنوي ترون نه خوښ نه وو، د ۱۹۰۷ کال په سر کي هند ته سفر وکړ او دشاهانه هرکلي سره مخامخ شو. امیر حبیب الله خان د ۱۹۰۷ م کال دجنورۍ په لومړۍ نیټه لنډي کوتل ته ورسید. په هماغه ورځ دانګریزانو حکومت هغه ته د اعلیحضرت لقب منظور او سلامي یې د ۲۱ نه ۳۱ توپونو ته لوړه کړه . هغه دمارچ دمیاشتي تراومي (۷) نیټي پورې د ددوو میاشتو او شپږ ورځني سفر په موده کي دپیښور، آګرې، علی ګړه ، ډیلي، اجمیر، کلکتې، بمبئې، کراچې، لاهور، امرتسر او راولپنډۍ په ګډون دګن شمیر سیمو څخه کتنه وکړه .

هغه د حرکت نه مخکي د انګریزانو د بلني په ځواب کي د دري ژبې دغه شعر ولوست:

کفر است در طریقت ما کینه داشتن

ائین ماست سینه چون آئینه داشتن (۳)

په دې سفر کي چي له یوې میاشتي زیات وو، د بین المللي سیاست په هکله د هر راز خبرو نه ډډه وشوه، خو امیر دسرحدي قبایلو په هکله خپل نظریات په ساده ډول انګریزي چاروواکو ته څرګند کړل. دهغه په عقیده، ترڅو چي دا قبایل خپلواکه پاتي شي، او انګریزان پرې دبرې موندلو هڅه ونکړي، نو په سرحد کي به کومه ستونزه رامنځ ته نشي. دانګریزي چارواکو سره د خبرو اترو په ترڅ کي امیر ژمنه وکړه چي د روسیي سره به، د انګریزانو د منځګریتوب نه پرته، هیڅ ډول مخامخ معامله نه کوي(۴).

دهندوستان نه دامیر کتنه د انګریزانو دپاره ډیره ګټوره وه. امیر افغانستان ته په راستنیدو ټینګ عزم درلود چي دانګریزانو د حکومت سره اعلان شوې دوستي په خپل ټول طاقت سره عملي کړي(۵)، خو امیر دننه په افغانستان کي د سخت مخالفت سره مخ شو. دا مخالفت دومره شدیده وو چه د بیرته ستنیدو په وخت کي یې لغمان سره نږدې د کابل او جلال آباد ترمنځه لار کي دوژلو هڅه وشوه، خو امیر ددې برید نه ژوندې خلاص شو. امیر تر دې وروسته دځان په وړاندې دخلکو د سختو احساساتو او غبرګونونو د کنټرول دپاره د سختګیرۍ نه کار واخیست او شدیده مقررات یې وضع کړل. دانګریزانو سره د امیر حبیب الله خان د وفادارۍ رویه د هغه شهرت او حیثیت ته سخت تاوان ورساوه او د خلکو کرکه او نفرت ترې هغه وخت نور هم زیات شو کله چي دروسانو او انګریزانو تر منځ د ۱۹۰۷ کال پټ ترون نه خبر شول.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکي په خیر و لولئ




دا ترون دایران، افغانستان او تبت په هکله د روسیې او بریتانوي امپراتوریو د نفوذ د ساحې د ټاکلو په هکله د ۱۹۰۷م کال د اګست دمیاشتي په ۳۱نیټه په پیتزبرګ کې د تزاري روسیې د باندنیو چارو د وزیر او د انګریزانو د سفیر تر منځ لاسلیک شو. ددې ترون برخې د ایران اوافغانستان په هکله په لاندې ډول وې:

ایران: په دریو برخو ویشل شوې وو. په شمال کې د روسانو د نفوذ ساحه، په جنوب کې د انګریزانو د نفوذ ساحه او په منځ کې نرۍ بیطرفه ساحه یا بفر ستیټ.

افغانستان: روسانو ومنله چې دا هیواد به د انګریزانو تر نیمه حمایت لاندې وي، او دخپلو پخوانیو هڅو نه، چې مستقیم روابط ورسره وساتي، تیر شول.

په ۱۹۰۸م کال کې دمومندو د سرې غزا په وخت کې نائب السلطنه لارد مینټو د مومندو په سیمه کې د ناځاپي پاڅون په هکله دحالاتو نه امیرحبیب الله خان خبر کړ او دهغې نه یې غوښتنه وکړه چې سمدلاسه دافغانستان د خاورې نه هغه راغلي وسلوال جنګیالي بیرته ستانه کړي، کوم چې په جګړه کې برخه لري، او په راتلونکې کې هم دانګریزانو په خاوره د تیریو مخه ونیسي.

امیر حبیب الله خان د بریتانوي هند دنائب السلطنه داپریل دمیاشتې د ځلرویشتمې (۲٤) نیټې د پیغام په اخیستو سره د مې دمیاشتې په پنځمه (۵) نیټه هغه ته ډاډ ورکړ چې خپلو مامورینو ته یې داسې سخت احکام صادر کړي چې خلک د سرحد د تیریدو نه په ټینګه منع کړي، که څه هم د ګڼ شمیر ناپیژندل شوو لارو د موجودیت له امله به په ځینو سیمو کې د دوی د تیریدو قطعي بندیز امکان ونلري(۶).

دلیک استولو سره سم امیر دمومندو او افریدو دسیمې نه افغان ملایان بیرته ووغوښتل او دوی ته یې په عام محضر کې په ډاګه کړه چې د مومندو سره د هغوی دملګرتوب سره مخالف دئ. امیر همدا شان هغه کسان چې په جګړه کې یې ګډون کړې وو، کابل ته واستول او ددوی مهم کسان یې تر څارنې لاندې ونیول(۷). د ډیورنډ د لیکې نه دافغاني

---


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

غازیانو دتیریدو د ټینګ ممانعت او په جګړه کې د ګډون کوونکو غازیانو د بیرته ستنیدو په وخت کې دهغوی د مشرانو په وړاندې سخت اقدامات د کومو په نتیجه کې چې د کونړ غازي میرزمان خان هم د انګریزانو د خوشالولو دپاره بندي کړای شو، سبب شول چې انګریزي چارواکي د امیر حبیب الله خان ددې کار نه خوشاله او هغه ته د مننې یو لیک هم ولیږي .

## دسردار نصرالله خان رول او برخه

امیر عبدالرحمن خان په ژوند کې خپل ولیعهد ټاکلی نه وو. هغه په ۱۹۰۱م کال کې مړ او پنځه زامن او دوه لوڼې تري پاتې شول. د هغه دوه زامن سردار نصرالله خان اوحبیب الله خان له یوې موره وو. دامیر درې نور زامن امین الله جان، محمد عمر او غلام علي له نورو میاندو وو.

امیر حبیب الله خان د ۱۹۰۱م کال د اکتوبر په پنځمه (۵) نیټه د سردار عبدالقدوس خان اعتمادالدوله په مرسته د واک پرګدی کیناست او یو کال وروسته یې د خپل ورور سردار نصرالله خان په وسیله د "سراج الملت والدین " یا "دملت او دین د څراغ" لقب ترلاسه کړ.


سردار نصرالله خان

سردار نصرالله خان په ظاهره یوصوفي مشربه او مذهبي سړی وو، د ملایانو او روحانیونو سره یې ټینګې اړیکې درلودې او ددوی ملاتړ هم ورسره وو. په کابل کې دانګریزانو د وخت مسلمان ایجنټ (عامل) سید افتخارالدین د افغانستان په اړوند خپل ورستني ریپوټ کې د سردار نصرالله خان په هکله لیکلي چې "سردار نصرالله خان اوږده ږیره لري او ټولو ته ملا ښکاري، خو هغه په حقیقت کې ډیر چالاکه او دسیسه سازه سړی دئ . هغه په ظاهره داسې څرګندوي چې ګواکې په ټولو چارو کې د امیر اطاعت کوي، خو د هغې د صداقت په هکله د شک دپاره ډیر کافي دلایل موجود دي. هغه تل هیله لري چې یوه ورځ د امیر لقب او امتیاز ترلاسه کړي. هغه د نائب السلطنه (وایسرای) رتبه او ددولت په چارو کې بې حده اختیارات لري . هغه په نظامي چارو کې هم لاس لري. دهغه د کرکټر اصلیت هغه وخت څرګندیږي کله چې څوک دهغه په حرمسرای کې دننه دفرانسوي فیشن دپام وړ تقلید ته ځیر شي. هغه عیاشۍ ته سخت لیواله دئ، خو په ډیر مهارت سره دا د خلکو څخه پټساتي او پدې بریالي کیږي چې خلکو ته ځان ملا وروپیژني. (۸)".

سردار نصرالله خان دمختلفو دلایلو له امله دانګریزانو نه کرکه ښودله، چې تر ټولو لومړی دلیل یې دپلار دژوند په وخت کې د لندن دسفر ناکامي وه. د ۱۸۹۳ کال د نومبر دمیاشتې د ډیورنډ د توافق نامې نه وروسته دهندوستان وایسرای لارډ ایلګین امیر عبدالرحمن خان ته بلنه ورکړه چې د بریتانوي هند او انګلستان څخه لیدنه وکړي . دامیر زړه غوښتل چې لاړ شي خو دنقرص دناروغۍ له امله یې سفر کولای نشو، نو خپل دوهم زوی سردار نصرالله خان یې واستاوه. دسفر لویه موخه په انګلستان کې دافغانستان دسفارت په پرانیستو کې د ملکې ویکتوریا دموافقې لاسته راوړل وو. خو نصرالله خان بریالي نشو او امیر په سختۍ سره نا امیده شو. هغه شکایت وکړ چې "دا یواځې داشرافي ډلو رواج نه بلکه زمونږ د خوارو خلکو رواج هم دی چې دمیلمه د غوښتنې په نه منلو سره هغه نه مایوسه کوي(۹)".

سردار نصرالله خان د انګریزانو او روسیې دتړون څخه خپه وو، او دهغه ګوند مشر هم وو چې د ترکیې په پلویتوب یې په نړیواله جګړه کې دافغانستان ورګډیدل او د اسلامي وحدت او افغانستان د طاقت څرګندول غوښتل.

دافغانستان دخاورې څخه په انګریزانو د حملو او دمومندو په جګړو کې د افغاني غازیانو دګډون په هکله د امیرحبیب الله خان د پالیسي او دهغه د ورور سردار نصرالله خان د رول په برخه کې انګریزي چارواکي، د خپلو ایجنټانو د ریپوټونو په بنسټ، بیلابیل نظریات څرګندکړیدي:

ځینې ادعا کوي چې امیر دحکومت د چارو ټول واک خپل ورور سردار نصرالله خان ته پریښې او خپله په مزو چړچو کې ډوب وو.

---



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالې د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

مینتو بیا په دې نظر وو چې امیر د سردار نصرالله خان د سیاسي طاقت او مذهبي  متعصبیینو په کړی کې راګیر،  او دسرحدي جګړو مخنیوې ورته ممکن نه وو.

ځینې بیا وایي چې امیر په لوې لاس د حالاتو نه بې خبره ساتل شوې وو.

بله ډله  وایي چې  هغه د حالاتو نه ښه خبر او په بشپړه توګه پوهیده چې څه روان دي .  که څه هم هغه  خپل خلک په دې الوګولو کې ګډون ته نه تشویقول، خو له بلې لورې یې د هغوی مخه هم نه نیوله .

دافغانی مؤرخ پوهاند عبدالحی حبیبي نظر ددغه وروستی ډلې نظر ته ورته دئ . هغه لیکي چې امیر عبدالرحمن خان بریالي شوې وو چې  خپل سیاسي لیاقت سره دافغانستان په امارت خان ټینګ کړي. هغه که د کورنیو سرغړونکو سره د قهر او غوځوونکې تیغ په ژبه خبرې کولې، نو په خارجي سیاست کې یې  په پوره خوشالتیا سره پوازې په ډیلې اتکا درلوده . له بله پلوه هغه د سازش او نرمش او د هند د وایسرای نه په کال کې د اتلس لکه کلدارو د مرستې داخیستلو سره سره  د  ختیزو سرحداتو او قبایلو چارې  یوازې د هغوی رحم او کرم ته ونه سپارلې. هغه که له یوې خوا وایسراې لدې لورې ډاډمن او مطمئنه ساته، نو له بلې خوا یې دافغانستان دسیاسي او سوق الجیشي موقعیت څخه دپوره ګټې د اخیستو دپاره د هډې د ملا نجم الدین آخندزاده په شان ملایان  قبایلي سیمو ته فرارول  تر څو هلته د جهاد هنګامه توده وساتي او وایسرای ته وښایي چې که افغانستان هم داسې  قبایلي غورځنګونه  تحریک کړي  نو د بریتانوي هند دپاره به ډیر خطرناکه نتایج ولري.

پوهاند حبیبي زیاتوي چې د امیر عبدالرحمن خان د مرګ نه وروسته دهغه زوی حبیب الله خان په ځانګړي توګه دغه حالت ته دوام ورکولاې نشو، نو ځکه یې خپل ورور سردار نصرالله خان ته چې ملا مشربه وو، او پټکي به یې آغوسته، ددې سیاست د بل اړخ   دپرمخ بیولو وظیفه ورکړه. هغه یې دارګ له منځه وویست او د ارګ لویدیزې لورې ته یې دزین العماره په نوم  یو بل قصر ورته جوړ کړ تر څو هر خان او ملک او ملا ورسره رابطه ولرې او پرته له کوم قیدوشرطه په آزاده ډول ورسره تګ راتګ ولرې، او د سرحداتو او قبایلو تولې چارې  هغه پرمخ بوځي، او د ضرورت په وخت کې په ختیزو پولو کې حرکت منځ ته راولي، او که وغواړي جهاد اعلان او هغه دافغانستان د خلکو دارادې مظهر وګڼي.  او دا هغه سیاست وو چې امیر حبیب الله خان او دهغه ورور د خپل پلار څخه زده کړې وو(١٠).

مولانا عبیدالله سندهي  چې په کابل کې د هندوستان د جلاوطن حکومت  فعاله عالیرتبه غړې او دسردار نصرالله خان او حاجي عبدالرزاق خان(١١) سره  نژدې اړیکې درلودې، وایي چې  دنړیوالې جګړې په وخت هغه ته دوه خبرې معلومې شوې، یوه داچې امیر حبیب الله خان دافغانستان د علماوو او سترو شخصیتونو، او سرحدي سیمو د علماوو او مشرانو څخه دا وعده او بیعت اخیستي وو چې ترڅو  هغه حمله پیل نکړي، تر هغې به دغه مشران او علما یواځې د جګړې دپاره تیارې او کوښښ ته دوام ورکوي.  داځکه چې  په اسلام کې دپاچا داجازې او دستور نه پرته د جګړې اجازه نشته . او پدې توګه خلکو ته ډاډګیرنه ورکول کیده چې دافغانستان پاچا به هرومرو جګړه پیل کوي، خو یوه موده وروسته ځرګنده شوه چې امیر انګریزانو ته یقین ورکړې وو چې په جګړه کې به ناپیلي او بې طرفه پاتې کیږي; او دوهمه خبره داوه چې دجرمني څخه راغلي ګډ هندي (الماني او ترکي) هئیت هم تر ډیره وخته غولول شوې وو(١٢). مولانا سندهي زیاتوي چې  نائب السلطنه سردار نصرالله خان ددې حقیقت څخه خبر وو، خو ماته یې هیڅکله ویلي نه وو.

دامیر حبیب الله خان د امارت ددورې په هکله بیلابیلو نورو اسنادو او شواهدو څخه هم  ځرګندیږي  چې دخلکو د عمومي نارضایتی په وړاندې دغبرګون،  دتخت او تاج  څخه دحمایت،  او دسرحدي پښتنو قبایلود پاخونونو او احساساتو د مخنیوې  پدې سیاسي لوبه کې سردار نصرالله خان خپل رول په بریالیتوب سره لوبولای دئ .

(نوربیا)

---


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

## منابع


۱. Fraser-Tytler, William K. (1967). Afghanistan: a Study of Political Developments in Central and Southern Asia. (افغانستان: دمنځنی او سویلي ایشیا سیاسي انکشافات)، ۱۷۹ مخ
۲. مورلي ته د مینټو د ۱۹۰۶ کال د سپتمبر د دریمي نیټي لیک، د ایډینبرا په ښار کي د سکاټلنډ په ملي کتابخاني کي د مینټو اوراق
۳. غبار، میر غلام محمد (۱۳٦٦)، ۷۲۹ مخ
۴. Haroon, Sana (2007). Frontier of Faith: Islam in the Indo-Afghan Borderland. (عقیدوي سرحد)، ۲۰ مخ.
۵. Fraser-Tytler, W. K. (1967)، ۱۷۹ مخ
۶. Summary of the Administration of Lord Minto, No. 16, P.14
۷. هماغه ځای
۸ . دانګریزانو پټ استخباراتي اسناد، L/MIL/17/14/15/1، ۱ مخ
۹. Adamec, L.W. (1974). Afghanistan's foreign affairs to the mid-twentieth century: relations with the USSR, Germany, and Britain. (دشلمي پیړۍ تر نیمائي پورې دافغانستان خارجي چارې: دشوروي اتحاد، جرمني او بریتانیا سره روابط)
۱۰. حبیبی، عبدالحی (۱۳۷۲)، ۱۱۵-۱۱۷ مخونه.
۱۱ . ملا باشي، د میزان التحقیقات مشر یا دافغانستان دشرعي محکمي رئیس حاجي عبدالرزاق خان
۱۲ . لغاړي، مولانا عبدالله (۱۹۹۸)، ۵۹-٦۰ مخونه




افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ